مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

٢٠٢۶/١٠/١٣

# «توتشکمپاره»

## یونستالژیک یاد



د ډنمارک په کوم ښار کې چې زه ژوند کوم، هیدرسلیف نومیږي. د دې ښار مرکز ته نږدې په یوه استوګنیزه سیمه کې یوه‌لویه ونه ولاړه ده چې د روزګار سړو تودو یې خیټه ورڅیرلې ده. هرکله مې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

چې په دې ونه سترګې لګيږي، ما ته د کابل په چاردهي کې د توتو هغه ونه راياديږي چې د نيلهٔباغ او دهٔقلندر سيمې په منځ کې د يوې هديرې ترغاړه ولاړه وه.

د دې لنډې مقالې په ترڅ کې به د يادو دوو سره ورته ونو په باب لنډمعلومات وړاندې شي.

د افغانستان په پلازمېنه کابل کې د توتانو د جالبې ونې (توتشکمپاره) په باب د معلوماتو منبع تر اوسه پورې يوازې زما په سترګو ليدلې حال او حافظې پورې اړه لري، له پلټنو سره ـ سره ما په بل ځای او بله منبع کې معلومات پيدا نهٔشوکړای.

اوس چې د نوي نسل د پوښتنو منده تر اې ای (AI) پورې ده، نو ما هم د چتجيپيټي ور ورو ټکاوه او د «توتشکمپاره» په باب مې ځينې پوښتنې ورسره شريکې کړې، خو داسې د قناعت وړ او نوی معلومات مې ترلاسه نهٔشوکړای. د توتشکمپاره په باب زما او چتچيپيتي تر منځ يوڅه خبرې وشوې، دا يې متن دی:

آصف:

سلامونه!

د کابل په چاردهي سيمه کې چې د اوسني تشکيل له مخې په اوومه ناحيه کې راځي، د توت يوه عجيبه ونه وه. ايا ته د دې ونې په باب معلومات لرې؟

چتچيپيتي:

سلامونه او نيکې هيلې!

د کابل د چاردهي سيمې د هغې «عجيبې توت ونې» په اړه ما په باوري تاريخي سرچينو کې کوم مشخص او مستند معلومات ونه موندل. خو د کابل د زړو اوسېدونکو ترمنځ د ځينو ځانګړو ونو، چينو او زيارتونو په اړه شفاهي روايتونه ډېر مشهور دي. ممکن هغه توت ونه هم له همدې ډول محلي کيسو او خاطرو څخه وي.

که ته د دې ونې په اړه لږ نور جزئيات راکړې، ښايي وکولای شم ښه پلټنه وکړم. د بېلګې په توګه:

- دا ونه د چاردهي په کوم ځای کې وه؟
- خلک يې په څه وجه «عجيبه» بلله؟
- ايا له کوم زيارت، مدرسې يا تاريخي شخصيت سره تړاو درلود؟
- ايا د هغې د ميوې، عمر، ښې يا کومې کرامتنما کيسې يادونه کيږي؟
- تا دا کيسه د چا له خولې اورېدلې يا په کوم کتاب کې دې لوستې؟

د کابل د پخوانيو سيمو لکه چاردهي، دهٔافغانان، بالاحصار او شهدای صالحين په اړه ډېر معلومات شفاهي بڼه لري او په رسمي تاريخونو کې نه دي ثبت شوي. که ته د دې توت ونې په اړه کومه نوره نښنه يا روايت شريک کړې، زه کولای شم ژوره پلټنه وکړم او وګورم چې ايا په افغاني تاريخي اثارو، خاطراتو يا د کابل د پخوانيو اوسېدونکو په ليکنو کې يې يادونه شوې ده.
که ستا مطلب هماغه «د چاردهي د توت ونه» وي چې ځينو مشرانو يې د خلکو د نذرونو او دعاوو ځای باله، نو مهرباني وکړه دا خبره راته تأييد کړه، ځکه د هغې په اړه بېلابېل روايتونه شته.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

آصف:

د توت دا ونه د کابل د چاردهي په سیمه کې د نیله‌باغ او ده‌قلندر په منځ کې د یوې هدیرې پر غاړه ولاړه وه او ما خپله په ځو ځلې توت په کې خوړلي دي. د توت دا ونه ډېره لویه او نس یې ځیرې و، په همدې وجه یې توت شکم پاره ورته ویلې.

چټ‌چي‌پي‌تي:

ډېر په زړه پورې معلومات دې شریک کړل! اوس چې تا یې دقیق ځای او ولسي نوم یاد کړ، نو داسې ښکاري چې دا ونه د چاردهي د سیمې له هغو مشهورو طبیعي نښو څخه وه چې د خلکو په حافظه کې ژوندۍ پاتې دي، خو په رسمي تاریخونو کې نه دي ثبت شوې.
د ستا د روایت له مخې:

- دا ونه د **نیله‌باغ او ده‌قلندر تر منځ** پرته وه؛
- د یوې **هدیرې پر غاړه** ولاړه وه؛
- د توت ونه **ډېره لویه او زړېدلې** وه؛
- د ونې **نس یا تنه له منځه ځیرې شوې وه؛**
- خلک یې د همدې ځانګړتیا له امله **«توت شکم‌پاره»** بلله؛
- او تا خپله هم ځو ځله د هغې توت خوړلي دي.

په افغانستان، په ځانګړې توګه د کابل په پخوانیو سیمو کې، د ډېرو زړو ونو لپاره ولسي نومونه موجود وو. ځینې ونې د بڼې له مخې نومول کېدې، لکه «کږه چنار»، «سپېره توت»، یا «دوه سرې توت». «شکم‌پاره» هم همداسې یو ولسي نوم ښکاري، یعنې هغه ونه چې تنه یې له منځه تشه او ځیرې شوې وي.

د توت ونې معمولاً ډېر اوږد عمر لري، او کله چې عمر یې سلګونو کلونو ته ورسېږي، د تنې منځنۍ برخه ورو ورو تشېږي، خو ونه بیا هم ژوندۍ پاتې کېږي او مېوه ورکوي. نو امکان لري چې **توت شکم‌پاره** د چاردهي له ډېرو پخوانیو ونو څخه وه، ښايي د څو نسلونو خلکو یې توت خوړلي وي.

له بده مرغه، ما په مکتوبو سرچینو کې د «توت شکم‌پاره» ځانګړې یادښت ونه موند، خو ستا دا شخصي شاهدۍ په خپله تاریخي ارزښت لري. د کابل د ټولنیز تاریخ یوه لویه برخه همداسې د خلکو په شفاهي روایتونو کې خوندي پاتې شوې ده.

که ته د دې ونې د پرې کېدو، وچېدو یا له منځه تلو وخت هم په یاد لرې، یا د هغې کوم زوړ انځور لرې، نو کېدای شي د کابل د سیمه‌ییز تاریخ لپاره یو مهم سند وي. زه فکر کوم چې که د چاردهي نور زاړه اوسېدونکي هم وپوښتل شي، نو ښايي د **«توت شکم‌پاره»** په اړه نورې کیسې او خاطرې هم راټولې شي.

زما په اند، دا یوازې یوه ونه نه وه؛ بلکې د چاردهي د خلکو د ګډو خاطرو یوه برخه وه. ستا د دې یادونې له امله، اوس د کابل د شفاهي تاریخ یوه بله ټوټه هم ثبت شوه. (د مکالمې پای)



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

**له استاد شاه‌محمود محمود پوښتنه:**

د همدې ورځې په ماښام مې د کابل پوهنتون د تاریخ څانګې پخواني استاد شاه‌محمود محمود ته زنګ ووهاه او د توت شکم پاره په باب مې وپوښته، د هغه ځواب هم منفي و او د یاد توت ونې په باب يې څه معلومات نه درلود.

اوس هم زما خپل خاطرات او د سترګو لیدلی حال:

د «توت‌شکم‌پاره» په شاتنی برخه کې یوسوری هم شوی و او عقیده داسې وه چې ځینوښځو به نوزیږي ناروغ ماشومان له یاد سوري نه د رغیدو په نیت تېرول.

زما يو ورور چې تر موږ کشر وو حبیب نومیده چې د یوې عادي ناروغۍ په وجه خدای له موږ نه واخیست، هغه وخت زما په ماشوم زړه کې دا خبره تېره شوه چې که د توت شکم پاره د شاتني سوري څخه په تېرېدو ناروغ ماشومان رغېږي، نو زموږ حبیب جان يې ولې له دې سوري تېر نه کړ؟

وروستی ځل چې د تصادف له مخې مې «توت‌شکم‌پاره» ولید، د جګړې په اور کې د یوې کورنی د یوه ځوان د کباب شوي بدن په ځنازه کې د ګډون له پاره هلته تللی وم. نيته مې هېره ده، خو د هجري لمریزې نېټې د شپېتمې لسیزې کوم کال به و. دومره مې په یاد دي چې د یادې غمجنې کورنی استوګنځی «توت‌شکم‌پاره» پاره ته مخامخ پروت و. موږ چې د جنازې رااېستلو ته ولاړ وو، نو زه د «توت‌شکم‌پاره» پاره په څنګ کې ولاړ وم او د توت پر ډډه مې تکیه کړې وه، پر هغه ماحول باندې ویر داسې حاکم و چې توت هم د قرباني شوي ځوان په ویر کې له موږ سره ځان شریک کړی و او سمه ژړا يې کوله.

**له ښاغلي داود فرهنګ نه د مرستې غوښتنه:**

د ۲۰۲۶ ام کال د جون په دیارلسمې ښاغلي داود فرهنګ راسره له کابل نه غږیده او د فرهنګي مسایلو په باب څه مشورې يې غوښتلې؛ ما هم له ده د «توت شکم‌پاره» په باب مرسته وغوښته.

آصف:

بیا سلامونه!
۲۰۲۶/۰۶/۱۵

زما پوښتنې پورې اړوند معلومات: توت شکم‌پاره: د توت دا ونه د کابل د چاردهي په سیمه کې د نیله‌باغ او ده‌قلندر په منځ کې د یوې هدیرې پر غاړه ولاړه وه او ما خپله په خو خو ځلې توت په کې خوړلي دي. دا پنځوسمي لسیزې کیسه ده (۱۳۵۰ هـ ش) د توت دا ونه ډېره لویه او نس يې څیرې و، په همدې وجه يې توت شکم پاره ورته ویلې. که تاسو لطف وکړئ او هغې سیمې ته ورشئ چې دا ونه اوس هم شته که له منځه ورل شوې ده؟ د سیمې خلک باید وپوښتل شي چې د دې ونې د پخواني او اوسني حالت په باب څه وایي او که ونه نه وي، څه ډول له منځه وړل شوې ده؟ که ونه اوس هم شته وي، نو له بېلابېلو برخو يې عکسونه واخلئ او ما ته يې راولېږئ.

له مرستې نه مو همدا اوس مننه!

فرهنګ:
سلامونه
قدرمن بهاند صاحب په دې هیله چې ښه اوسی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

چي کله مي فرصت پيداکړ ان شاء الله ورځم، که دغه ادرس يي لړ راته واضح کړی چي نيله باغ او ده قلندر په کومه ساحه کي دي؟ له دهمزنګ څخه چي دارالامان ته ځي په همدغه سیمه کي دي؟ که دلته وي نو کوم مشهور ځای چي ورته نږدې وي که هغه راته وښياست.
jun. 2026 20.20 .17

آصف:

نيله باغ او ده قلندر د دارالامان پر لاره نه دي پراته، بلکي دا دواړه سیمي د هغه واټ پر لاره پرتي دي چي له ګذرګاه نه پيل کېږي او تر دهدانا پوري غځيږي او د دهمراخان د سرک په نامه هم يادېږي.

د پيدا کولو لنډه لاره يې دا ده چي لومړی دارالامان ته لاړ شئ، هلته له يو چا نه د دهمرادخان د سرک پوښتنه وکړئ له هغه ځان نه د ده قلندر سیمه يو کليومتر فاصله لري ده. په ده قلندر کي چي له هرچا نه د توت شکم پاره د ځای پوښتنه وکړئ، معلومات درکوي له هغه ځان نه چي لږ کښته ولاړ شئ د نيله باغ منطقه پيل کېږي.

خو تر نن پوري بيا د دې فرهنګي دوست يواحوال شانتي هم را معلوم نهشو.

بيا مي د خپلي کورنۍ يوه ځوان نه هيله وکړه چي يادې سمې ته ورشي او د سيمې له اوسېدونکو نه د يادې وني په باب معلومات راټول کړي.

ځو ورځې وروسته د خپلي کورنۍ ياد غړي راته وويل چي مورد نظرسيمې تللی و، هلته داسي څه نه و د يادې وني په خير وي. په هماغې سيمې کې يي له يوه عمرخوړلي دوکاندار نه د «توت شکمپاره» په باب پوښتنه کړې وه، هغه له خواشنۍ په ډکه لهجه وره ويلي وو:

هو په هغه ځای کې دا ونه ولاړه وه، خو تقريباً پنځلس کاله مخکي خلکو دا ونه ووهله او د سونتوکو په خير يي توټي کړه او ويوړه؛ خو د ډنمارک د هيدرسليف په ښار کې توت شکم پاره ته ورته ونه لا تازه ولاړه ده او د ډنمارک د برحاله قوانينو له مخې څوک د دې اجازه نه لري چي يوه لښته يي هم غوڅه کړي.

**په ډنمارک کې توت شکمپاره ته ورته ونه:**

ما خپله په ډنمارک کې له مجبوريت نه څو کاله له بنوالانو سره هم کار کړی دی. په دې کار کې زموږ مشر يوډنمارکی و چي په بنوالي کې يي تخصص درلود، اوس کورناستی دی. يوه ورځ چي د تصادف له مخې په مخه راغی ما په ډنمارک کې توت شکمپاره ته ورته وني ځانګړني په باب ورته وويل او د وني پته مي ورکړه، دی ورغلی و، ونه يي ليدلې وه، ځو ورځې وروسته يي ما ته د يادې وني په باب معلومات راولېږل. زه به يي ژباړه دلته کېږدم:

د دې وني اصليي‌نوم Castanea sativa دی چي اروپايي شاهبلوط (Sweet Chestnut) هم ورته ويل کېږي او د مېوې په توګه يي مغز خوړل کېږي.

**لنډ معلومات:**

- علمي نوم: «Castanea sativa»
- عام نوم: اروپايي شاهبلوط، خوږ شاهبلوط
- کورنۍ: Fagaceae


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

- اصلي سيمې: سويلي اروپا، د مديتراني شاوخوا او د لويديځې آسيا ځينې برخې
- د ونې ډول: پاڼريز، اوږد عمر لرونکې او نسبتاً لويه ونه
- لوړوالی: عموماً شاوخوا له شلو تر ديرشو مترو پورې لوړيږي، خو په مناسبو شرايطو کې تر دې هم لوړېدای شي.
- مېوه: د اغزيو په څېر پوښ کې وده کوي او دننه يې عموماً 1–3 د خوړلو وړ شاه‌بلوط داني وي.
- ګل: د اوړي په لومړيو کې اوږده، خوشبويه ګل‌غوټۍ جوړوي.

مېوه يې څه ډول ده؟

د دې ونې مغز د نورو ډېرو مغز لرونکو ونو، لکه بادام او چارمغز، په څېر ډېر غوړ نه لري؛ نشايسته او کاربوهايډرېټ پکې نسبتاً زيات وي. خام، پخې يا وريته شوې داني خوړل کېږي او له اوړو څخه يې ډوډۍ، کيک او نور خوراکونه هم جوړېږي.



د ليکوال نورې ليکنې په لاندې لينک کې لوستلای شئ:

http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ